سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۲ / ۲۲

# بنه حل لار، د مرکزي دولت پیاوړتیا ده

دوهمه برخه

له مرکزي دولت څخه مراد ، د ولسمشر مرستیالان قسیم فهیم ، خلیلی ! په حکومت ، څارنوالی او محکمو کې د ناستو او پرتو څو غلو ، ډاکوانو او یا په ولسی او مشرانو جرګه کې د ځینو سپرنو ، بوینو او بدماشو استازو ټولګه نه ده ، بې‌لکې دلته موخه په تېرو لسو کلونو کې د افغانانو او نړیوالو د زیار او هڅو ، خولو او تناکو ، پیسو او وسایلو هغه نښتل شوی او رانغاړل شوی بهیر او جوړښت دی چې د افغانستان د اساسي قانون په تصویب ، د دریو ګونو دولتي بنسټونو په ایجاد ، امنیت ، زده کړي ، فرهنګي ، د بیان په ازادی ، ټولنیزو ، اقتصادي ، مالي ، مدني او نورو چارو په بنسټونو او ټولنو او د ملګرو ملتو او نورو نړیوالو میثاقونو ته د ژمنو په درناوی او رعایت کې ځلیږي .

افغان دولت نن ټولي نړی سره ژوندی او کاري اړیکي لري . د افغانستان بېرغ نن د نړی د ډېرو هیوادو پر پلازمېنو رپیږي . کابل د افغانستان پلازمېنه د اسیا د لویي وچې په تېنده زړه بدل شوی او د ټولو لویو وچو تر منځ د ګټورو اړیکو د پیوستون او یووستون دنده لري . افغان دولت په ټوله کې د روح له مخي د افغانستان د ملي حاکمیت ، خپلواکی ، ځمکنی بشپړتیا او د افغانستان د ملي تاریخ ، ملي هویت د ساتندوی او پالندوی پتوګه تر پام لاندې نیول کیږی .

له مرکزي دولت څخه ملاتړ د همدغو ارونو ننګه اوپالنه او د لاسته راغلو بریاوو وده او ساتنه جوړوي !

د افغانستان ملي جبهه او ملي ائتلاف چې افغان حکومت کې غوښن ګډون او بشپړ واک لري ، له دې واک څخه دوی یوخوا د دولت په وړاندې د مخالفت او سبوتاژ کار اخلي او مرکزي دولت پیاوړتیا ته نه پرېږدي او بلخوا دا پراخ واک د نورو مخالفینو لکه طالبانو او اسلامي ګوند لپاره دا پلمه په لاس ورکوي چې که جمعیت او نظار شورا ځانونه مجاهدین او مقاومت خېل بولي او په دې لامل په دولت کې غوښن واک لري نو بیا خو اسلامي ګوند او طالبان هم په جهاد او مقاومت کې له دوی روسته نه دي ، نو دوی ته ولي لږ واک ورکول شوی او یا د دوی په ګومان هیڅ واک نلري . د واک پر سر دا شخړه چې د افغانستان د ناورین منځتکی جوړوي د سیمه یزو او نړیوالو لاسوهنو په لامل نوره هم پیچلي شوي او څو لوري یی نیولي دي .

اوس که دولت څخه بهر وسلوال او نیمه وسلوال مخالفین د افغانستان د غمیزې یو اړخ جوړوي ، د دولت پر چوکیو ناست مخالفین او منافقین بیا ددې ناورین بله خوا تکمیلوي . دا دواړه لوري په یوه موخه کې چې مرکزي دولت به پښو ټینګېدو ته نه پرېږدي شریک دي ، که څه هم تاکتیکونه او بهرني ملاتړي یي سره جلا دي .

په دولت کې د ملي جبهې او ملي ائتلاف زیاته او غوره ونډه ، طالبان دې ته لمسوي چې وواییِ د افغان حکومت سره چې واک نلري او د شمالټلواله یي پر څټ سپره ده ، خبرې کولو ته چمتو نه دي . دوی وایي چې شمالټلوالي ته په دولت کې زیات واک بهرنیانو او امریکایانو ورکړی . سره له دې چې دوی هم دا خبرې د یوه بهرني هیواد پاکستان په ملاتړ کوي ، خو د خبرو بل اړخ یي ریښتیا دی او هغه دا چې دوی هم افغانان دي او په دولت کې د واک او برخې حق لري. طالبان حق لري چې دولت کې د یوې ډلې پتوګه ونډه واخلي ، نه داچې ټول دولت د تېرځل پشان طالبي شي او بل داچې په دولت کې دا ګډون باید د سوله یزو ، قانوني او مدني لارو څخه تر سره شي ، نه د جګړې له لارې او هغه هم د پاکستان د پیسو ، وسلو او ملاتړ په مټ !

د رسنیو د روستیو رپوټونو له مخي په دې برخه کې د خندا او اندیښني وړ خبره دا ده چې اوس پنجاب ښکاره وایی چې له طالبانو ملاتړ کوي او دا خبره له چا نه پټوي !

له بده مرغه په طالبانو کې هیڅوک نر پیدا نه شو ، چې دا لاسوهنه او سپین سترګي چې د ملاتړ تر ښکلي نوم لاندې وړاندې کیږي ، وغندي او د هغه پر ضد کومه اعلامیه خپره کړي !


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د اسلامي ګوند دا خبره هم چې دولت کې باید ټولې خواوې راټاله شي او د واک زیاته برخه یوازې شمالټلوالي ته په لاس کې پرېښودل شي ، د بنسټ او ار له مخې ریښتیني ، قانوني او مدني ده . خو دا ونډه باید د جګړې له لارې نه بلکې د روغې جوړې په لارو سره ترسره شي . همدارنګه د مرکزي دولت سره دا روغه جوړه هم باید خپله د اسلامي ګوند لخوا مخې ته یووړل شي او د پاکستان او ای ایس ای له شره خوندي وي .

دا چې اسلامي ګوند د ژغورنې د ملي میثاق په نوم خپله تګلار کې د یوه موقت حکومت غوښتنه کوي او افغان دولت یوازې د کابل دولت په نوم یادوي ، افغانانو ته د منلو وړ طرحه نه ښکاري . په هیواد کې د موجود دولت د جوړېدو په بهیر لس کلونه تېر شوي او افغانان په زیاتو لګښتونو تر دې ځایه رسیدلي ، په دې ټولو چلیپا کښل او له سره وهل شوې لار بیا پیلول که یوخوا له لګښتونو ډکه ښکاري ، بلخوا کوم منطقي او ګټور دلیل هم نه لري .

د ولسمشر کرزي دا خبره چې د ملي شورا د شپاړسمې دورې د دوهم تقنیني کاري کال د پرانیستې په غونډه کې یې وکړه او په ټینګار سره یې وویل چې افغانستان د پردیو د سیاسي ازمایښتونو ځای او لا براتور نه دی چې په هرو څو کلونوکې یو ځل یو بل نظام او یا سیاسي جوړښت په هغه کې و ازمویي ، که یوخوا شمالټلوالي ته چې فیدرالي نظام غواړي نو بلخوا د دولت د بنسټ چې په اساسي قانون کې تسجیل دي ، نورو مخالفینو ته ښه ځواب او غبرګون دي .

په قوي احتمال دواړه ډلې ، طالبان او اسلامي ګوند له هیواده د امریکایانو او بهرنیانو وتل ، هسې د یوې پلمې پټوګه کاروي ، ځکه په شالید کې دواړه ډلې د امریکا او لویدیځوالو په ملاتړ رامنځته شوي او د دوی استخباراتي پروژه ده او بلخوا دوی دا خبره ددې لپاره کوي چې « په مرګ یې ونیسه چې په درد راضي شي » یاني دوی ته په افغان دولت کې غوره او زیاته ونډه ورکړل شي .

ددې خبرې په منلو سره چې مرکزي دولت چورلیز وګڼل شي او سیاسي ډلې پکې په یوه یا بله ښه برخه ولري او ځان پکې ووینې یوه دیموکراتیکه او عادلانه حل لار ګڼل کېدای شي . خو که دولت د شمالټلوالي سره برمته وی یا طالبان پر ټول دولت خیټه اچول غواړي او د ځان احصار یې ګڼي او یا اسلامي ګوند وغواړي چې دولتي واک کې یې ونډه له نوروغوښنه وي داسې اندیښنې ، دریځونه او اقدامات به شخړه او جګړه تل توده وساتي او له بده مرغه د سرابښو او شریروګاونډیانو د لاسوهنو لپاره به هم لاره اواره پریږدي .

بل پلو که مرکزي دولت پیاوړی نه وي او په ۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶ کلونو کې د رباني په مشری د مجاهدینو د نا متمرکز او پاشلي جهادي دولت په څېر وي ، پایله به یې کورنۍ جګړې ، ټولوژنې او د افغانانو پراخ مهاجرتونه وي چې افغانانو ولیده او افغانستان یی یوه پیرۍ شاته وغورځاوه .

همداراز که دولت یوازې د یوې ډلې په لاس کې وي لکه په ۱۹۹۶ ـ ۲۰۰۱ کلونو کې د طالبانو امارت ، افغانستان به بیا په بل یو لوی ناورین ورګډ کړي .

ښه لار دا ده چې لومړی ټولې ډلې د خبرو اترو له لارې مرکزي واک ته وبلل شي او روسته د دیموکراتیکو ټولټاکنو له لارې مرکزي دولت لا غښتلی او پیاوړی شي .

جګړه مارې ډلې امریکایانو او لویدیځوالو ته هیڅ زیان نه شي اړولای ، یوازې خپل افغانان وژني او خپل هیواد افغانستان ورانوي . که دا ډلې غواړی چې دولتي واک کې شریکې شي او لویدیځوال هم له افغانستان ووځي ، خبرې اترې او روغه جوړه یې یوازینۍ حل لار ده .

اوس که طالبان وغواړي چې په یوازې ځان د افغانستان دولت ونیسي او د تېر ځل پشان واکمني وچلوي ، دا خبره ورسره یو افغان هم نه مني .

د شمالټلوالي او یا د جګړه مارو ډلو ټپلو څخه هغه کسان زیات ګرم او پړ دي چې ځانونه روشنفکران بولي ، خو د مرکزي دولت د پیاوړتیا پر ځای له دې یا هغه تبهکارې ډلې څخه د ملاتړ په سنګر کې ټینګ ولاړ دي . که افغاني ټولنه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مرکزي دولت د پیاوړتیا له لارې له جګړو مارو ډلو څخه ځان ونه ژغوري ، کیدای شي دا ډلې افغاني ټولنه د نویو غمیزو او ناڅرګنده برخلیکونو سره مخامخ کړي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ